Women's Peace & Humanitarian Fund

A United Nations & Civil Society Partnership

# د اشارو د لارښوونې پاڼه

## د WPHF د اغېز سیمه 6: امن جوړونه او ریکوري یعني رغېدا

دغه پاڼه WPHF ترلاسه کوونکوکسانو ته لارښوونه کوي د هغو لازمو اشارو په هکله چي د WPHF امپېکټ ابریا 6 لپاره کارول کېږي: د امن راوستل او ریکوري یعني رغېده، او د هغو ځانګړو نوښتونو په هکله چي بېځایه کېدلو ته اړایستل شیو ښځو لپاره دي. دا نور وړاندیز شوې اشارې هم ورکوي او بیا د اشارو ، بنسټ کرښو او موخو ، او د تصدیق د ذرایع کارولو په هکله ځینه عمومي لارښوونې کوي.[1]

**تعریفونه[2]**

***ریفیوجي***: کوم کسان چي د تاوتریخوالي، جنګونو، د بشري حقونو پراخو سرغړونو یا د په ریښتا ښکاره ځاني ځورونې له لاسه له خپله هیواده بهر پناه اخلي او چي جهاني ساتنې ته اړتیا لري.

***دننه بېځایه شوی کس (IDP)***: یو داسي کس چي د وسلې والو جګړو، تاوتریخوالي، د انساني حقونو سرغړونو یا قدرتي او انسان جوړ کړیو ناورینونو له لاسه یا د هغو له اغېزو څخه د بچ کېدلو په موخه له خپله کوره تښتي، خو د دولت تر هغو پولو نه وي اوښتلی چي په نړۍ واله توګه منل شوې وي.

***راستون شوی:*** هغه کډوال چي بېرته خپل هېواد ته راستنېږي. کوم IDPs چي له بېځایه کېدلو پسته بېرته خپلې سیمې ته راځي هغوی هم راستانه شوي بلل کېږي.

***پناه غوښتونکي***: هغه بېځایه شوی کس چي د پنا درخواست یې کړی وي خو لا یې غوښتنه پروسس شوې نه وي. هر پناه غوښتونکی به ضروري نه ده چي په انتها کښې د یوه ریفیوجي په ته توګه و منل کېږي.

### ریزلټس فرېمورک یعني د پایلو چوکاټ

د امپېکټ سټېټمنټ دا دی: ***د امن جوړولو په شرایطو کښې د بېځایه شویو ښځو او ځوانو مېرمنو ټولنیز- اقتصادي رغېدنه او سیاسي ګډون کښې بهتري.***

تاسي ته پکار ده چي دغه سټېټمنټ د اغېز په کچې وکاروئ او د لازمو اشارو له لیسټ څخه یې غوره کړئ (په راتلونکې برخې کښې یې تعریفونه وګورئ)

تاسي باید خپل هغه اوټ کم سټېټمیټس، اوټ پوټ سټېټمنټ او اشارې[3] تیار کړئ چي په پروژې پورې اړوند وي.

| متوقع پایلې | اشارې | د تصدیق ذرایع/سرچینې | کړنې | بودیجه |
|---|---|---|---|---|
| **امپیکټ**<br>د امن راوستلو په شرایطو کښې د بېځایه شویو ښځو او ځوانو مېرمنو بهتره ټولنیزه- اقتصادي رغېدنه او سیاسي ګډون | کم ترکمه یو (1) پکښې غوره کړئ:<br>6.1. د امن جوړولو شرایطو کښې، چي د ښځینه یا مدني ټولنې سازمانو څخه اغېزمن شوي وي، د پلانونو او/یا تګلارو شمېر او ډولونه<br>6.2. د اقتصادي تولید سرچینو په نتېجې کښې د ښځو د زیات شوي فعالیت شمېر/فیصدي (د بېځایه کېدلو[4] ډولونه او عمر ګروپونه[5] جلا جلا کړئ) | د ریویو سند، مشاهده، یا مرکې<br><br>نمونیي سروې یا ریویو سند<br><br>ریویو سند، مرکې یا مشاهده | | |

---

1 ټولو ګرانټ اخیستونکو ته به د څارنې او ارزونې یوه بېله لارښوونه ورکول کېږي چي د څارنې او ارزونې په هکله نور ژوره تیخنیکي لارښوونه کوي، په شمول د دې چي د ریزلټس فرېمورک به څرنګه جوړول کېږي.

2 د کډولو لپاره د ملګرو ملتونو های کمیشنري(UNHCR) https://www.unhcr.org/449267670.pdf

3 په ریزلټس فرېمورک کښې باید د څومره والي او د **څرنګوالي** د اشارو تر منځ باید انډول وي. د څرنګوالي اشارې تاسي سره مرسته کوي چي د تجربو، نظرونو او د افرادو او ډلو د لید ژوره پلټنه ترسره کړئ او درسره مرسته کوي چي 'څرنګه' او 'ولې' بدلونونه راغلي دي.

4 پو **امپیکټ یا اغېزه** هغه اوږد مهال بدلون ده چي د پروژې د نتایجو ترلاسه کولو په پای کښې توقع کېږي. دا مانا نه لري چي بدلون به پر ملي کچې راځي. د امپیکټ یا اغېزې پراخوالي په تاسي اړه لري.

5 د بېځایه کېدلو په ډولونو کښې ریفیوجي، IDP او راستانه شوي شامل دي

6 د WPHF عمر ګروپونه کښې تر 18 کلنۍ کم عمره، 18 کلنې، او تر هغو د لوی عمر هغه راځي

| متوقع پايلي | اشاري | د تصديق ذرايع/سرچينې | کړنې | بوديجه |
|---|---|---|---|---|
| | 6.3 د هغو ښځو شمېر چې په سياسی او فيصله-ساز بهير کښې ګډون کوي (د ښځاينه کېدلو ډولونه او عمر ډلې يې جلا جلا کړئ) | | | |
| **نتيجه (نتايج)**[8] د خپلې پرژې پر بنسټ د اوټ کم يعني نتيجې سټېټمنټس تيار کړئ | د نتيجې په کچه دغه لانديني د رسيدګۍ اشارې شاملې کړئ:<br><br>R1. ښځاينه کېدلو ته اړايستل شويو د هغو ښځو شمېر چې له پروژې څخه يې مرسته اخيستلې وي (د ښځاينه کېدلو ډولونه او د عمر ډلې)<br><br>R2. د نورو هغو خلکو شمېر چې له پروژې څخه نبغ په نبغه برخه من کېږي (جنسيت، عمر، او يا د برخمن کېدلو ډول[7])<br><br>R3. د هغو خلکو شمېر چې له پروژې څخه به غيرمستقيمه توګه برخه من کېږي.<br>**او د هرې نتيجې 1 داسې اضافي اشاره تياره کړئ چې ستاسې د پروژې بدلون پکښې وي.** | ډاکومنټ ريويو<br>د ګډون والو ليستونه<br><br>ډاکومنټ ريويو/ تخمينه[6]<br><br>په تضمين به يې تعين کېږي | | |
| **Output (s)**[9] Develop a set of outputs for each outcome.<br>**اوټ پوټس[10] يعني نتايج**<br>د هرې پايلې لپاره د نتايجو يو سيټ تيار کړئ | د هر اوټ پوټ لپاره 1-2 اشارې تيارې کړئ | د هرې اشارې د تصديق ذريعه او سرچينه ښکاره کړئ | د هرې نتيجې لپاره، د خپلو کړنو ليسټ تيار کړئ | د هرې نتيجې لپاره، د بوديجې مقدار پکښې واچوئ |

**د ډېټا راغونډول او تاوان مه رسوئ**

د ګټه ورې ډېټا يعني معلوماتو راغونډولو ته بايد د ښځو او ټولنې په هکله خوندیتوب، ساتنې او اخلاقي خبرو ته ږومبيتوب ور نه کول شي. ډېر کله له ښځو او د هغوی له کورنيو څخه د پېژندني معلومات (لکه نومونه، د تماس معلومات يا پېژندنه) هغوی له نور خطر سره مخامخوي. دغه لانديني ټکي په ياد ساتل پکار دي:

- د راغونډ کړل سويو معلوماتو پر بنسټ په کوربه هيواد کښې د پاته کېدلو حق له خطر سره مخامخېدلای سي.
- له پروژې څخه د ګټې اخيستلو لپاره کېدلای شي چې ښځې او کورنۍ دا احساس وکړي چې هغوی معلوماتو ورکولو ته اړايستلې کېږي.
- د ګډون والو په هکله ښځي زيات معلومات راټولول کېدلای سي چې احساساتي پرېشاني جوړه کړي ځکه چې د ځګرو، ټاوتريخوالي، سرغړونو يا بلوسو تجربې له درده ډکې وي.

د خطر او تاوان کمولو لپاره:

- د هر راز ډېټا يا پېژندني معلوماتو راټولو په هکله له ګټه اخيستونکو څخه همېشه اجازه اخلئ
- برخه منو ته وواياست چې تاسې به يې معلومات څرنګه کاروئ او څرنګه به يې خوندي ساتئ

[7] په غيرمستقيمه توګه د برخه من کېدلو تعريف وګورئ

[8] د برخه من کېدونکو په قسم کښې د کوربنې کميونټي غړي، ځايي چارواکي، او نور داسې کسان لکه معلوليت لري، داسې کورنۍ چې مشري يې ښځو ته ورپه غاړه وي، وغيره، که اړتيا وي.

[9] اوټ کمز يعني نتيجې هغه منځمهاله بدلونونه دي چې د بشپړو شويو پايلو له برکته يې هيله کېږي. تاسې يوه نتيجه يا ګڼې نتيجې لرلای شئ. زيات ترزياته 2 نتيجې لرل يو ښه رول دی. د اوټ کم يعني نتيجې يوه ښه بېلګه ده "د امن جوړولو لپاره په تطبيقي ميکانيزم کښې د ځايي برخه والو همکاري زياتول".

[10] يو اوټ پوټ يو څرګند ورکول شوی توليد يا خدمت دی چې د تطبيق شويو کړنو په نتيجې کښې وړاندي کېږي. د اوټ بوټ سټيټمنټ يوه بېلګه ده: "د ځمکې او وراثت حقونو په هکله معلومات چې ښځو ته ورکول کېږي".

- دا ډاډ ورکړئ چې برخه من په دې خبر وي چې هغوی تاسې د معلوماتو درکولو څخه یا کارولو څخه انکار کولای شي
- د خلکو نومونه مه لیکئ، بلکې پرخای یې شمېرې لیکئ لکه ( 3 ,2 ,1 وغیره)
- معلومات په راز ورڅخه اخلئ چې هلته شاوخوا نور کسان یې نه اوري
- له برخه منو څخه بېخي زیات معلومات مه غواړئ. بس هغه څه ورڅخه غواړئ چې اړتیا وي ورلره.
- ډېټا په خوندي ځای کېښي وساتئ یا که الیکټرونکي دوسیي وي نو پاسوړدونه وروواچوئ

په راتلونکې برخې کېښې چې د جلاجلا معلوماتو د راپور ورکولو په هکله خبرې شوې دي لکه د عمر ګروپ، د ښځایه کېدلو ډولونه، د ښځې تر مشرۍ لاندي کورنۍ، وغیره، دا کار بس هغه وخت کېدلای شي چې خوندي وي، او چې ښځو، سازمانونو، یا عملې ته هیڅ ډول خطر نه جوړېږي. دا په اخلاقي توګه وي له راز او خوندیتوب سره.

## هغه اشارې چې اړتیا ده ورلره

د WPHF ګرانټ اخیستونکو په توګه، تاسې ته پکار ده چې ځینه معیاري اشارې (وګورئ جدول 1) وکاروئ چې د ستاسې د پروژو د اغېزې او رسېدا جهاني راپور ورکولو او بیانولو کېښې اسانتیا وي.

نو څکه خو تاسې ته پکار ده چې غوره کړئ:

- **کم ترکمه یوه** اشاره[11] د امپیکټ لېول یعني د اغېز کچې
- **ټولې** د رسېدا اشارې (مستقیم او غیر مستقیم برخه من یعني بېنېفیشریز)

تاسې اضافي اشارې هم ورزیاتولای شئ، کومې چې ستاسې په پروژې پورې اړوندې وي. ښه دود دا دئ چې په یوه اوټکم یعني پایلې او اوټ پوټ سټېټمېنټ تر درېیو (3) زیاتې اشارې نه وي.

### جدول 1: د اشارې تعریف (لازمي اشارې)

| لازمي اشارې | تعریف |
|---|---|
| **د اغېز اشاره 6.1**<br><br>د هغو پلانونو او/یا پالیسیانو شمېر او ډولونه چې د امن جوړولو په شرایطو کېښې د ښځینه یا مدني ټولنې له سازمانونو څخه اغېزمنې سوې وي | له دا منلو سره سره چې امن جوړول او رغېدنه یو اوږدمهال بهیر دی، دغه اشاره د امن جوړولو په هغو بهیرونو کېښې د پلانونو، کړنلارو، یا پالیسیانو شمېر او ډول راښیي چې پکښې ښځې د مانادارې برخې اخیستلو جوګه پاته شوې وي، یا پې د دغو پلانونو/پالیسیانو د پرمختګ پر هغو باندې اغېزه کړې وه.<br><br>بېلګې یې دا کېدلای شي چېرته چې ښځو یا CSOs په کامیابۍ سره د جنډر ځانګړې ژبه، د ښځو غوښتنې او / یا مالي چارې په پلانونو یا پالیسیانو کېښې اچولې وي، او کوم چې په ځانګړې توګه ګډون او هغو خلکو ته اوره ورکوي چې بېځایه کېدلو ته اړایستل شوي وي. |
| **د اغېز اشاره 6.2**<br>د ښځو د استازیتوب د زیاتوالي شمېر/فیصدي چې د اقتصادي تولیدي سرچینو په نتیجه کېښې رامنځته سوې وي (د بېځایه کېدلو او د عمر د ګروپونو جلاجلا ډولونه) | دا یوه د څومره والي اشاره ده چې د هغو ښځو ټول شمېر شماري چې ستاسې د WPHF له لارې یې د بهترو اقتصادي سرچینو له برکته زیاته استازیتوب ترلاسه کړی وی.<br><br>استازیتوب مانا نور ویساتوب، ګډون یا مخکښې په پریکړه کولو کېښې څکه چې ښځو اقتصادي پیاوړتیا ترلاسه کړې ده او برخه مني سوي دي. لکه، دا هغه ښځې کېدلای سي چې د ډېرې شوې اقتصادي ګډون، یا د تطبیق شویو اقتصادي رغنیزو کارونو له برکته یې نوره برخه اخیستنه، اغېز او / یا د کورنۍ په پرېکړو کولو یا د کمیونټي په پرېکړو کولو کېښې مخکښې ترلاسه کړې وي.<br><br>دغه اشاره د هغو ښځو شمېر نه یادوي چې اقتصادي سرچینو ته یې لاسرسی موندلی وي (دغه شمېر کېدلای شي په اوټ پوټ لېول کېښې یاد کړل شي). بلکې، دا د ښځو په وړتیا کېښې راغلی هغه بدلون څرګندوي چې خپل اواز پورته کوي، په پرېکړو کېښې ګډون کوي څکه چې دی د دوی اقتصادي سرچینو کېښې زیاتوالی راغلی دی (تاسې په اغېز کېښې راغلی دغه بدلون میچلای سئ، د بېلګې په توګه د یوې سروې په کولو سره)<br><br>تاسې کولای سئ چې د ټول 'شمېر' خبر ورکړئ، د 'فیصدئ' یونټ کارولو ته اړتیا نه لرئ. که تاسې غواړئ چې له شمېره سره فیصدي یې هم وراندي کړئ، نو تاسې کولای شئ چې د هغو ښځو ټول شمېر چې استازیتوب یې زیات شوی وي د هغو ښځو پر ټول شمېر باندې تقسیم کړئ چې په خبلې ټاکل سوې سیمې کېښې مو سروې کړې وي. لکه، 60% (له 150 ښځو څخه 75 ښځې)<br><br>**پکار ده چې دغه اشاره د عمر ګروپونو (تر 18 کلنۍ پورته او تر 18 کلنۍ لاندې) او د** |

[11] تاسې تر یوې زیاتې اشارې غوره کولای سئ، که ستاسې په کار پورې اړوندې وي.

| لازمي اشارې | تعریف |
| --- | --- |
| | **بېځایي توب ډولونو (کډوال، IDP او راستانه شویو) جلاجلا کړي، چېرته چې کوندیا یعنې ممکن وي. نور متغیرات یا جلاوالي لکه هغه ښځې چې معلولیت لري، هغې ښځې چې د کورنۍ مېرمنې وي، یا نور ډولونه چې له حالاتو پورې اړوند وي کېدلای شي پکښې شامل کړ شي.** |
| **د اغېز اشاره 6.3**<br>د هغو ښځو شمېر چې په سیاسي او / یا د پرېکړو کولو بهیر کښې ګډون کوي (د بېځای کېدلو ډولونو او عمر ګروپونه پکښې جلا جلا) | دغه یوه د څرنګوالي اشاره ده او د هغو ښځو ټول شمېر ګڼي چې ستاسي د WPHF پروژې له برکته د پرېکړو په بهیرونو کښې کارنده ونډه اخلي. دا په کمیونټۍ کښې دننه وي، یا فورمونو، د پرېکړو او د ولسوالۍ یا سیمه ایزې کچې حکومتي ادارو کښې، د غبرګون د سمبالښت چارو کښې یا په هغو بهیرونو کښې وي چې موخه یې امن جوړونه او رغېدنه وي.<br><br>پکار ده چې په دغې اشارې د عمر ګروپ (تر 18 کلنۍ پورته او تر 18 کلنۍ لاندي او د بېځایي توب ډولونو لکه، کډوال، آی ډي پیز یا راستانه شویو) جلا جلا شي، چې چېرته هم کوندیا یعنې ممکن وي. |
| **د رسپدا له اشارو کار واخلئ. بیا دا د ریزلټس فریمورک پر اوټ کم لیول کښېږدئ** | |
| **د رسپدا اشاره 1:**<br>د هغو ښځو اشاره چې بېځایه کېدلو ته اړایستل شوې وي او له غبرګون څخه برخه مني کېږي (د بېځایه کېدلو بڼه او د عمر ګروپ) | دا یوه د څرنګوالي اشاره ده او د هغو ښځو ټول شمېر ګڼي چې د خوړونې، جګړې، تاوتریخوالي، قدرتي ناورین، یا بشري حقنو سرغړونې له لاسه بېځایه کېدلو ته اړایستل شوې وي (لکه کډوالې، دننه بېځای شوي خلک (IDPs) یا پناه غوښتونکي)، او هغه چې زموږ له پروژې نیغه په نیغه کومک غواړي. په کومک کښې د اقتصادي رغېدا په کارونو کښې ګډون، لکه کار یا ځان بسیا کړنې، یا د سیاسي بهیرونو په پرېکړو کښې ګډون، یا په ځایي، سیمه ایزې او ملي کچې باندې د بدلون استازیتوب کېدلای شي.<br><br>په دغې اشارې کښې د بېځایه کېدلو ډولونه (کډوال، IDP او راستانه شوې) او د عمر ګروپ (تر 18 کلنې پورته او تر 18 کلنې کم) پکار ده چې جلاجلا وي، چېرته چې هم ممکن وي. نور متغیرات یا ډولونه لکه معلولیت لرونکې ښځې، هغه کورنۍ چې مشره یې یوه مېرمنه وي یا نور بېلابېل ډولونه چې په حالاتو پورې اړوند وي کېدلای شي چې پکښې واچول شي. |
| **د رسپدا اشاره2 :**<br>د نورو خلکو شمېر چې له غبرګون څخه نیغ په نیغه برخه من کېږي (په جنس، عمر، یا نور متغیرات) | څوک چې نیغ په نیغه برخه من کېږي په هغو کښې افراد، ډلې، یا سازمانونه راځي چې ستاسي له هڅو څخه برخه من کېږي، یا هغه چې ستاسي له کړنو څخه نیغه په نیغه یوځه تر لاسه کوي یا پخپله پکښې شامل وي. کېدلای شي چې دا کوربنې کمیونټیانې، د مدني ټولنې ځایي سازمانونه یا نورې خواوې وي.<br>نیغ په نیغه برخه من کېدونکي پکار دي چې په جنس او عمر جلاجلا ووېشل شي (تر 18 کلنې پورته او تر 18 کلنې کم). نورې ډلې هم کېدلای شي (لکه، معلولیت، ځای، کورنۍ چې مشرې یې د یوې مېرمنې پرغاړې وي، نورې خواوې، وغیره)، که اړتیا ږي. |
| **د رسپدا اشاره 3:** د هغو خلکو شمېر چې له غبرګونه څخه په غیرمستقیمه توګه برخه من کېږي | په غیرمستقیمه توګه برخه من کېدونکې هغه نور وګړي، ډلې یا سازمانونه دي چې ستاسي د پروژو سیده موخه نه وي. دوی د کمیونټي نور غړي، یا د کورنیو غړي کېدلای سي چې له ګډون کولو څخه په مثبته توګه برمخن کېږي.<br><br>د غیرمستقیمو برخه من کېدونکو ګڼتره په عمومي توګه د کورنۍ اوسط شمېر ستاسي پر مستقیمو برخه من کېدونکو باندې په تقسیمولو ترسره کېږي. چېرته چې دا کېدلای شي غبرګې شمېرې رامنځته کړي، نو د کوچني اوسط سایز شمارله به کومک وکړي. د بېلګې په توګه، که که د کورنۍ اوسط سایز 5 وي او نیغ په نیغه برخه من کېدونکي 100 وي، نو تاسي به یې داسي تقسیموئ 500 = 100 x 5.<br><br>غیر مستقیم برخه من کېدونکي اړتیا نه لري چې جلاجلا ووېشل شي. |

## جدول 2: د پایلو نورې وړاندیزشوې اشارې

د پایلو لاندینۍ اشارې داسي وړاندیزونه دي چې تاسي ته لاربښوونه کوي کله چې د اوټ کم یعنې د پایلې د کچې لپاره اشارې تعریفوئ. دا لازمي نه دي.

| د پایلو وړاندیز شوې اشارې | تعریفونه |
| --- | --- |
| | |

| د پایلو وړاندیز شوي اشاري | تعریفونه |
|---|---|
| د کړنو هغه ډولونه چې د کوربنو او کډوالو یا IDP ترمنځ ټولنیزې هم هنګۍ او امن رغونې ته وده ورکوي. | دا د څرنګوالي اشاره ده چې هغه نوښتونه راپېژني کوم چې د کوربنو او ښځو یا هغه خلک چې بېځایه کېډلو ته اړایستل شوي دي ( کډوالو یا IDP او راستانه شوي) ترمنځ ټولنیزې هم هنګۍ او امن رغونې ته وده ورکوي. په دې کښې د خلکو ترمنځ خبري اترېا همکاري رټلاى شي او د پروژ لخوا هر هغه پلان شوى کار چې همدا موخه لري. |
| هغه کارونه چې د CSOs لخوا تطبیقیږي چې د امن رغونې په حالاتو پوري اړوند سیاسي او/یا د پریکړو په بهیر کښې د ښځو ګډون پراخوي. | دا یوه د څرنګوالي اشاره ده چې د هغو کارونو/کړنلارو تشریح کوي چې ستاسي د سازمان لخوا ترسره کیږي چې چې د امن رغونې په حالاتو پوري اړوند سیاسي او/یا د پریکړو په بهیر کښې د ښځو ګډون اسان کړي. په دې کښې دا دا کارونه راتلاى شي لکه د ایډووکیسي کمپاین، د ښځو برخې اخیستنې او برابر ګډون به هکله معلوماتي ناستې، د پالیسۍ خبرتیاوې/رسنۍ/خبرپڼې چې د ښځو د ګډون، د ایډوکیسۍ لپاره روزنې په هکله داسي تیخنیکي مرستې وکړي چې له ښځو سره په د پریکړه کونکو په توګه کومک کوي، وغیره وغیره. کېډلاى شي چې دا چاره یوځلي وي یا ستاسي په WPHF پروژې کښې تر اخیره ادامه ولري. |
| د هغو غوښتنو ډولونه چې د جنس پوري اړوندو پلانونو او تګلارو لپاره تیار کړ شوي او وړاندي کړ شوي وي | دا یوه د څرنګوالي اشاره ده چې د هغو غوښتنو یا وړاندیزونو ډولونه بیانوي چې ستاسي د WPHF پروژې په مرسته وړاندي کړ شوي وي، د امن جوړولو په حالاتو کښې د جنس پوري اړوندو پلانونو او تګلارو د پراختیا لپاره، په تېره بیا هغه چې د داسي ښځو خوندتیوب او رغېدا پوري تړاو لري چې په بېځایه کېډلو ته اړایستل شوي وي.<br><br>د جنس سره تړاو لرونکي پلانونواو / یا تګلارو مانا د ('ښځه' یا 'جنډر') ژبې ته په ټولو کلیدي اسنادو کښې ځاى ورکول، دا باوري کول چې SGBV د امن او خوندیتوب یوه ستونزه بلل شوي ده، په خبرواترو کښې داسي موضوعاتو ته ځاى ورکول چې ژبه یې د رغېدا په پلانونو او تګلارو کښې د جنډر برابرۍ او جنډر سره تړاو لري ، یا داسي ځانګړي ستونزې چې د هغو ښځو په هکله وي چې په بېځایه کېډلو ته اړایستل شوي وي، او داسي نور. |
| د بېځایه کېډلو ته اړایستل شوو هغو ښځو شمېر چې د پراخ اقتصادي او سیاسي ګډون په موخه مرسته ورسره کېږي | دا یوه د څومره والي اشاره ده چې د هغو ښځو ټول شمېر ګڼي چې د ځورونې، جګړې، تاوتریخوالي، قدرتي ناورین، یا بشري حقونو سرغړونو له لاسه بېځایه کېډلو ته اړایستل شوي وي (لکه کډوالې، دننه بېځایه شوي (IDPs) یا پناه غوښتونکي)، او چې نبغ په نبغه ستاسي له پروژو ورسره مرسته کېږي. په مرستې کښې شامل دي د اقتصادي رغېدا په کارونو کښې ګډون لکه روزګار یا د ځان بسایني کارونه، یا د سیاسي بهیرونو په پرېکړو کښې برخه اخیستل، یا پر ځایي سیمه ایزې او ملي کچې د بدلون د استازو په توګه.<br><br>پکار ده چې دغه اشاره د عمر (تر 18 کلنې پورته او 18 کلنې کم عمر) ګروپونه جلا جلا وویشي، چې کله هم کوندیا یعنې ممکن وي. نور متغیرات یا بېلونې لکه معلولیت لرونکې ښځې، هغه کورنۍ چې مشرې یې د مېرمنو پرغاړې وي یا نورې ډلې چې په دغسي شرایطو پوري اړوندې وي هم پکښې شاملول کېډلاى شي. |
| د هغه احساس درجه چې کله ښځې په اقتصادي کارونو کښې د ګډون پرمهال د خوندیتوب او ساتنې په هکله کوي | دغه د څرنګوالي اشاره چې بېځایه کېډلو ته د اړایستلو ښځو دا احساسي مېچې چې په کومو رسمي او غیررسمي اقتصادي کارونو کښې چې دوى ګډون کوي نو هلته څومره د خوندیتوب او ساتنې احساس کوي. کېډلاى شي چې رسمي او غیررسمي کارونو ته لاسرسي باندې قانوني بندیز یا حد لګول شوى وي او زیاتر هغه کډوال چې کار بیاهم لاسرسی مومي هغوى اکثر په غیررسمي اقتصاد کښې وي[12]. د روزګار بنه په ملي قوانینو او شرایطو باندې اړه لري.<br><br>خوندي او ساتلي اقتصادي کارونا مانا هغه کار چې تاوان او ضرر به اړوي، چې ښځې د کار په ځاى کښې له ځورونې او جنسي بلوسي څخه خوندي وي، یا دا چې استحصال یې نه کېږي او نه به استحصالي کارونه کوي او نه به به اجرت او معاشونه ورڅخه ګرځول کېږي. دا هم مهمه ده چې په هیواد کښې د کار رسمي عمر وکتل شي او داسي نه وي چې ماشومان هم کارونه کوي.<br><br>چېرته چې امکان لري نو دغه اشاره د عمر ګروپ (تر 18 کلنې لاندي / تر 18 کلنې باندې) او د بېځایه کېډلو بنه لکه کډوال، IDPs، یا راستانه شوي جلاجلا کړئ. |
| د هغو ښځو شمېر چې انکم جنرېټنګ ایکټویټیز (IGAs) یعنې ګټه ورکارونه یې پیل کړي وي چې خپلې اقتصادي رغېدا ته اووړه ورکړي | دا یوه د څومره والي اشاره ده او د هغو ښځو ټول شمېر ګڼي چې چې انکم جنرېټنګ ایکټویټیز (IGAs) یعني ګټه روزګار یې پیل کړي وي چې د خپلې کورنۍ له اقتصادي ښېګړې سره مرسته وکړي او ستاسي د پروژې د نوښتونه له برکته یې دا کار کړی وي. IGAs د هر سایز یا سیکټور کېډلاى شي (لکه کرنه او مالداري، لاسي صنایع، دوکانداري او داسي نور) او ښځې یې په انفرادي توګه او ګروپونو کښې د ګډو IGAs په بنه کولاى شي لکه د ځاني مرسته ډله یا رسمي او غیررسمي ګروپونه. که IGAs په ګروپ کښې وي، نو د ګروپ ټول غړي پکار ده چې وشمېرل شي .<br><br>چېرته چې امکان لري نو دغه اشاره د عمر ګروپ (تر 18 کلنې لاندي / تر 18 کلنې باندې) او د بېځایه کېډلو بنه لکه کډوال، IDPs، یا راستانه شوي جلاجلا کړئ. نور متغیرات یا بېلونې لکه معلولیت |

[12] لطفاً د مهاجرینو او کډوالو لپاره د خوندي او عزت کار په هکله معلومات وګورئ پر: http://www.ilo.int/wcmsp5/groups/public/---dgreports/---dcomm/documents/publication/wcms_524995.pdf

| د پايلو وړانديز شوې اشارې | تعريفونه |
|---|---|
| | لرونکي ښځې، هغه کورنۍ چې مشري يې د مېرمنو پرغاړې وي يا نورې ډلې چې په دغسې شرايطو پورې اړوندې وي هم پکښې شاملول کېدلای شي. <br> کومې پروژې چې د موجوده IGAs سره تړاو لري، نو CSOs اشارې ته له 'د هغو ښځو له شمېر سره سمون ورکولای شي چا چې د اقتصادي رغېدا سره د مرستې لپاره ګټه ور روزګا په پېنتو درولی وي'. کېدلای شي چې د پياوړو IGAs ته نور پرخوالی يا زتاوالی ورکول شي، نوره سرمايه کاري پکښې وشي، نورې ښځې پکښې وګومارل شي، او داسې نور. |

## اشارې څه شی دي؟

*د اشارو تعريف داسې کېږي 'د څومره والي يا څرنګوالي عوامل يا متغيرات چې لاسته راوړنه په ساده او باوري توګه مېچي، چې له يوې لاسته راوړنې سره تړلي بدلونونه جوتوي، يا دا چې د يوه پراختيا راوستونکي عامل د کارونو په ارزولوکښې مرسته کوي'.*[13]

که ساده يې ووايو، نو اشارې هغه **'علامې'** دي چې د اوټ پوټ پرمختګ راښکاره کوي، او هغه بدلونونه راته جوتوي چې د متوقع اوټ کمز يعني پايلو له لارې شوې وي.

د اشارو درې ډولونه دي:

- **اوټ پوټ انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې د يوه اوټ پوپ (توليد يا وړاندي کړل سوی خدمت) د بشپړتيا لټون کوي.
- **اوټ کم يا پرفارمېنس انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې د لنډمهال بدلونونه مېچي، کوم چې د اوټ پوټس د بشپړتيا په نتيجې کښې کېږي.
- **امپېکټ انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې اوږد مهال بدلونونه مېچي، کوم چې د اوټ کمز يعني پايلو په بنه کېږي.

يوه اشاره په لانديني توګه رامنځته کېږي:

**د مېچي يونټ + هغه څه چې مېچل/لټول کېږي (د شنني کچ) + (اړوند جلاجلا وېش)**

**بېلګې:**

- شمېر (يا فيصدي) + د هغو ښځو چې استازيتوب يې زيات شوی وي د اقتصادي توليدي سرچينو له برکته + (د عمر د ګروپ سره سم جلاجلا وېش)
- شمېر د + د کميونټي د اګاهۍ د سيشنونو چې له CSOs سره پر ترسره د هغو ښځو د خونديتوب د هڅونې لپاره ترسره شوي وي څوک چې بېخايه کېدلو ته اړايستل شوي وي + (د CSO[14]s د بڼو سره سره جلاجلا وېش)

## د بنسټ کرښې نرخونه او موخې

هرې اشارې لره يو بنسټيز نرخ او موخه پکار ده.

يو د **بنسټ کرښې** نرخ هغه معلومات دي چې د يوې پروژې په پيل کښې راټول کړ شوي وي چې د اشارې د سر ټکی راښيي. د پايلي او اغېز د اشارو لپاره بنسټ کرښه روميې وار وي چې د معلومات راټولول کېږي. په ځينو صورتونو کښې، چې پر اشارې باندې اړه لري، دا کله کله صفر (0) هم کېدلای شي.

د بېلګې په توګه، د دغې اشارې *" د اقتصادي توليدي سرچينو له برکته هغه ښځې چې استازيتوب يې زيات شوی وي"* لپاره، ستاسې د پروژې په پيل کښې کېدلای شي چې 10 ښځې (له 50 څخه) ستاسې موخه وي چې استازيتوب يې زيات شوی وي. 10 يا (20%) به ستاسې بنسټ کرښه وي.

که (له شمېر سره سره) "فيصدي" هم کاروئ، نو مانا له 10 CSOs څخه 2 (يا 20%) شاملي دي. 2 (20%) به ستاسي بنسټ کرښه وي.
اوټ پوټ انډيکېټرز يعني اشارو لره بنسټ کرښه عموماً صيفر(0) وي ځکه چې تر هغه مخکښې خو مداخلت يعني کار نه وي پيل شوی.

---

[13] OECD Glossary of Key Terms in Evaluation and RBM (2002) https://www.oecd.org/dac/evaluation/2754804.pdf
[14] CSO کېدلای شي چې د ښځو تر مخکښې لاندې يو حقونو سازمان، يا د خوانانو د حقونو سازمان يا مشري خوانان کوي.

د بېلګې په توګه، اشاره لره، "د *CSOs د کمیونټي اګاهۍ سیشنونه چې د هغو ښځو د خونديتوب لپاره څخونه کوي چې بېځایه کېډلو ته اړ ایستل شوې وي"* ، ستاسي د پروژې په پیل کښې کېډلای شي مخکښې کوم سیشن نه وي شوی. نو مانا دا چې ستاسي بنسټکرښه به 0 وي.

**ټارګېټ يعني موخې** هغه دي چې کله تاسي يې د پروژې په پای کښې غواړئ. موخې باید حقیقتي او له مداخلت يعني کار سره اړخ لګوي. ټولې اشارې باید یوه موخه ولري. د همغه یوې اشارې کارولو بېلګه داسي ده:

د دغې اشارې *" د اقتصادي تولیدي سرچینو له برکته هغه ښځې چې استازیتوب یې زیات شوی وي"* لپاره کېدلای شي تاسي يې وانګېرئ چې ستاسي د مداخلو له لارې، د 10 ښځو بنسټکرښې کښې به جوت زیاتوالی راشي، چې هلته ستاسي موخه کېډلای شي 40 ته لوړه شي، د بېلګې په توګه.

که "فیصدي" هم کاروئ، او تاسي انګېرئ چې ستاسي مداخلې به د هغو ښځو شمېر زیاتولو کښې مرسته وکړي څوک چې زیات استازیتوب ترلاسه کوي، نو ستاسي موخه کېډلای شي 80% (له 50 ښځو څخه 40) شي، د بېلګې په توګه.

د اشارې کارولو یوه بله بېلګه "د *CSOs د کمیونټي اګاهۍ سیشنونه چې د هغو ښځو د خونديتوب لپاره څخونه کوي چې بېځایه کېډلو ته اړ ایستل شوې وي"* ، ستاسي پروژه د 5 اګاهۍ سیشنونو پلان لري، نو دا به ستاسي موخه وي.

## د تصديق ذرايع يا سرچينې

په ريزلټس فريمورک يا پايلو چوکاټ کښې هره اشاره د تصديق ذرايع او يوه سرچينه غواړي.

د تصديق ذرايع مانا 'څرنګه' (طريقه) تاسي معلومات راغونډوئ. دا د راغونډولو ميتډولوجي يعني کارتوګه ده. *بېلګې: د اسنادو بياکتنه، مرکې، سروې، ارزونه، مشاهده يعني کسنه، له ټاګلې ډلې سره خبرې اترې، وغيره.*

يو سرچينه مانا 'له کومه' به تاسي ډېټا يعني معلومات راغونډوئ. *بېلګې: ملي سروې، اداراتي شمېرې، ټاکل شوی نفوس يا وګړي، وغيره.*